**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب سایټ:** http://unama.unmissions.org

## د نړۍ مشهور عکاس له ملګرو ملتونو سره په افغانستان کې د سولې لپاره یو ځای شو.

یوناما په دې خوشحاله ده چې د نړۍ مشهور بریتانوی عکاس ټیم پیج له یوناما سره یوځای کیږي چې په افغانستان کې د دیموکراتیکو او سله ییزو هڅو تصویرونه وباسي.

ښاغلی پیج به د دې کال د مهمو ولسمشریزو ټاکنو او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو لباهر د وروستیو او نیو هڅې عکاسي کړي چې په ۲۰ د اګست به وشي او دغه انځورونه بیا په ۲۱ د سپتمبر د سولې په نړیواله ورځ ننداري ته کیږدي.

ښاغلی پیج وویل: "هیله لرم چی موږ د خپلو انځورونو له لاری یو بدلو را منځ ته کړو، څرنګه چی موږ هم دا کار په کمبودیا او بوسنیا کی د ۱۹۹۳ او ۱۹۹۸ لسیزو کی کړی وو. یو انځور د زر کلمو برابر دی او یا هغه یو میلیارده پیکسیل دی؟ انځورونه د خلکو په فکر کی د یخ په څیر د ټلویزیون د تیریدونکی تصویر په پرتله پاتی کیږی."

ښاغلی پیج به دغه راز د افغاني عکاس ژورنالستانو لپاره د روزنې کورسونه هم ولري چې نتیجې به یې په منظم ډول د یوناما په ویب پاڼه کې خپرې شي.

ښاغلی پیج وویل: زما لپاره چی د افغان عکاسانو ته لارښودنه وکړم، د هغوی مهارتونه لوړ کړم، یوه دیر غټ امتیاز دی، تر څو هغوی وکولای شی کومه دنده چی موږ تر سره کوو، هغوی تر سره کړي.

**د ملګرو ملتونو عالی استازی په افغانستان کې کای ایده وویل:** "هغه انځورونه چې موږ یې ډیری ځل د افغانستان په اړه وینو، د تاوتریخوالی او شخړو تصویرونه دي. افغانستان نورې کیسې هم لري. ډیر کم کسان د دې فرصت پیدا کوي څو وګوري چې افغانان په ډیر سختو شرایطو کې هم په قوی عزم او درنښت کې ژوند کوي. زه هیله من یم چې د ښاغلی پیج ماموریت به په افغانستان کې په هغو هیلو او امیدونو رڼا واچوي چې افغانستان د دې کال د تاریخي ټاکنو لپاره تیاری نیسي او د سولی لپاره لاره هواره کړی."

ټیم پیج د نړۍ یو مصروف عکاس دی. ده خپل مسلکي ژوند په ۱۸ کلنۍ کې په ۱۹۶۲ کې پیل کړ کله چې ده له بریتانیا څخه آسیا ته سفر وکړ او په پای کې یې د ویتنام د جنګونو ډیر مصروف تصویرونه په ۱۹۶۰ کې وشول راوړل.

دی څلور ځله شدید ژوبل شو. په وروستی ځل دې چې روغتون ته ورسدی، مړ اعلان شوی و. ټیم له خپلو ټپونو څخه روغ شو او خپل مسلکي ژوند ته یې په امریکا کې ادامه ورکړه.

ده یو شمیر کتابونه خپاره کړی دی او په فعاله ډول د عکاسانو او د ځمکنیو ماینونو د قربانیانو د ساتنې لپاره هڅې کوي.

**تم په افغانستان کی- انځورونه د سولی لپاره**

**د تیم  پیج لنډه بیوګرافی**

تم پیج د نړۍ د نامتو عکس اخیستونکو له جملی څخه دی. د هغه کار په کال ۱۹۶۲ کې کله چې دی ۱۸ کلن وو په تصادفی ډول پیل شو. هغه د برتانیی څخه آسیا ته سفر وکړ  چی د دی سفر په پای کی په ۱۹۶۰ کلونو کې د ویتنام له جګړي څخه د ځینو مشهورو عکسونه واخیستل. هغه څلور ځلی په شدید ډول ټپی شوي او آخر ځلی روغتون په رسیدو سره مړ اعلان شو. خو د ده ټپونه جوړ شول او دی په امریکا کې خپل کار ته دوام ورکړ. هغه یو شمېر زیات کتابونه خپور کړي او د عکسانو او ماین پاکانو د تحفظ یو فعال کمپاینر دی.

وب پاڼه: WWW.TIMPAGEIMAGE.COM.AU